# په پښتو شاعرۍ کې د ازادۍ روح


لیکوال* **پوهنمل نجیب الله مخلص**
برېښنالیک پته: بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې
najeebullahmukhlis7332@gmail.com
اورکید پېژندپاڼه: https://orcid.org/0009-0009-5962-5690

لیکوال **پوهنمل نجیب الله عمري**
برېښنالیک پته: د بدخشان پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګې
omarimustafa708@gmail.com
اورکید پېژندپاڼه: https://orcid.org/0009-0005-4803-2970



## لنډیز

د انسان ښکلا او ښایست په درې شیانو کې دی: لومړی علم، دویم محبت او درېیم ازادي. ازادي د خدای پاک ډېر لوی نعمت دی. ازادي د ژوند یوه ستره نېکمرغي ده. انسان ازاد زېږېدلی او د ازاد ژوند کولو حق لري. ازادي د انسان طبعي حق دی، نو ځکه له ازادۍ سره مینه لري. انسان ته ازاد او خپلواک ژوند تر هر څه غوره ښکاري. د یو ملت تر ټولو ستره سرمایه د هغه ملت ازادي ده. هوسا، ارامه او پرمختللی ژوند د ازادۍ پر مټ ترلاسه کېږي. په دې څېړنه کې کوښښ شوی ترڅو په پښتو شاعرۍ کې د ازادۍ روح روښانه شي. د دې څېړنې ټولنیزه موخه دا ده چې لوستونکي ازادي وپېژني او تر څنګ یې هغه پښتانه شاعران هم وپېژني کومو چې په خپلو اشعارو کې د ازادۍ موضوع په ډاګه کړې ده. د دې څېړنې ارزښت او اهمیت چې د څېړنې له تحلیلي - توصیفي مېتود څخه په کې ګټه اخیستل شوې ده، په دې کې دی چې تر دې دمه دغه موضوع چا په اشعارو کې نه ده څېړلې، نو له دې کبله اړتیا وه چې د څېړنې د ستونزې په توګه وڅېړل شي. د څېړنې موندنې ښیي چې د ازادۍ موضوع په نورو ژبو کې هم مطرح ده، خو په پښتو شاعرۍ کې درنه برېښي. د څېړنې پایله هم دا ښیي چې له ازادۍ سره د پښتنو شاعرانو بې سارې مینه پټه پاتې نه ده او د شعر پر ژبه یې برملا کړې ده.



**کلیدي ویي:** ازادي، ملت، شعر، شاعر، شاعري، مینه، روح.



* najeebullahmukhlis7332@gmail.com

# The Spirit of Freedom in Pashto Poetry

Author | **Najeebullah Mukhlis**
Pashto Department, Faculty of Literature, Badakhshan University
Email | najeebullahmukhlis7332@gmail.com
Orcid | https://orcid.org/0009-0009-5962-5690

Author | **Najibullah Omari**
Pashto Department, Faculty of Literature, Badakhshan University
Email | omarimustafa708@gmail.com
Orcid | https://orcid.org/0009-0005-4803-2970

## Abstract

Human beauty and dignity lie in three core elements: knowledge, love, and freedom. Among these, freedom is one of the greatest blessings bestowed by Almighty God. It is considered a fundamental human right and a key to a prosperous and meaningful life. Every human being is born free and deserves to live an independent life. A nation's most valuable asset is its freedom, as it is through freedom that comfort, peace, and progress can be attained.

This study aims to explore the spirit of freedom as reflected in Pashto poetry. The social objective of the research is to raise awareness among readers about the concept of freedom and to highlight Pashto poets who have addressed this theme in their works. The study's value lies in its originality—despite the importance of this theme, it has not previously been examined in the context of Pashto poetry. Therefore, it was necessary to investigate this subject as a research problem. Utilizing a descriptive-analytical method, the findings indicate that while the theme of freedom appears in various literary traditions, it carries particular depth and significance in Pashto poetry. The study concludes that Pashto poets have expressed profound and passionate devotion to the idea of freedom, making it an evident and powerful element of their poetic expression.

**Keywords:** Freedom, Nation, Poetry, Poet, Literature, Love, Spirit.

## سریزه

ازادي په یوه کس پورې تړلې نه ده، بلکې د ټولو ګډ مال دی. ازادي دې ته نه وایي چې څه دې زړه غواړي هغه کوه، بلکې ازادي هغه ده چې د څه حق در کړل شوی وي هغه ترسره کړې.

په پښتو شاعرۍ کې هر ډول مضامین شته او د موضوع تنوع پکې له ورایه لیدل کېږي. شاعران چې له ټولنې سره نه شلېدونکې اړیکې لري، هرې طبقې ته یې په خپلو اشعارو کې نغوته کړې ده او د خپل دور د ټولنې ښه انځورګري یې هم وړاندې کړې ده. دوی نه یواځې دا چې د خلکو پر عیبونو یې سترګې نه دي پټې کړي، بلکې د خانانو او سردارانو پر ظلم و جبر هم پټه خوله نه دي ناست او هر وخت یې د ازادۍ نارې وهلي او شعارونه یې ورکړي دي. تر ازادۍ یې خپل ځان او مال ځار کړی دی. په دې څېړنیزه مقاله کې د یو لړ هغو پښتنو شاعرانو اشعار راوړل شوي او تحلیل شوي چې د ازادۍ روح پکې له ورایه ځلېږي.

## د ستونزې بیان

د څېړنې ستونزه په دې کې ده چې په پښتو ادبیاتو کې چا، تر دې دمه په ټولیزه توګه د ازادۍ موضوع د شاعرانو په اشعارو کې نه وه څېړلې او دا د وخت غوښتنه وه چې باید د تحقیقي ادبیاتو تر څنګ، په تخلیقي ادبیاتو کې هم د دې مسئلې سپیناوی وشي چې د ټولنې د نورو وګړو غوندې، یو لړ شاعران هم د زور، زیاتي، استبداد او ظلم پر وړاندې چوپه خوله نه دي پاتې شوي. تل د هر ظالم او جابر پر وړاندې لکه سپر درېدلي، غږ یې پورته کړی او د ټولنې سمون او اصلاح یې غوښتې ده. اړتیا وه چې دغه شاعران او د دوی هنري افکار ټولنې ته ور وپېژندل شي.

## د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: ازادي څه ته وایي او څرنګه په پښتو شاعرۍ کې شاعرانه شوې ده؟

فرعي پوښتنې

۱. ازادي پر څو ډوله ده؟

۲. ازادي څه ارزښت لري؟

۳. کومو پښتنو شاعرانو د ازادۍ موضوع شاعرانه کړې ده؟

## د څېړنې ارزښت

د ازادۍ موضوع په پښتو اشعاور کې ځکه د ارزښت وړ ده، چې دا خو ټولو ته هویدا ده چې په نړۍ کې څومره مخلوقات دي، هغوی ټول د ازادۍ غوښتونکي دي او ازادي یې لوی ارمان دی. ازادي دې ته نه وایي چې څه دې زړه غواړي، هغه کوه، بلکې انسان تر هغې پورې ازاد دی چې د نورو حقوق تر پښو لاندې نه کړي. دا چې شاعران غواړي د اشعارو له لارې ټولنه اصلاح کړي. کوم ظلم او زیاتی چې د لوړ پورو چارواکو لخوا د ټولنې پر وګړو کېږي، که څوک پرې مخامخ

نیوکه نشي کولی، نو شاعران یې د اشعارو او شعار له لارې ورته متوجه کوي. همدا راز د دې څېړنې ارزښت درنو زده کوونکو او لوستو خلکو ته دا دی چې د ازادۍ پر قیمت پوهېږي او هغه شاعرن پېژني کومو چې د ازادۍ روح په اشعارو کې منعکس کړی دی.

## د څېړنې موخې

اصلي موخه: ازادي پېژندل او په پښتو شاعرۍ کې یې ځرکونه موندل.

فرعي موخې: ددې څېړنې موخې دادي چې:

۱: د ازادۍ ډولونه پېژندل.

۲: لوستونکي د ازادۍ پر ارزښت او اهمیت وپوهېږي او د ملتونو د پرمختګ وسیله او سرمایه یې وګڼي.

۳: د هغو شاعرانو له فکر او هنر سره اشنا کېدل کومو چې ټولنه په رڼه لاره روانه کړې او د ازادۍ موضوع یې په اشعارو کې شاعرانه کړې ده.

## د څېړنې شالید

زما د مطالعې له مخې تر اوسه ( په پښتو شاعرۍ کې د ازادۍ روح ) تر دې سرلیک لاندې څېړنه چا نه ده ترسره کړې او دا یوه نوې لیکنه ده چې د بېلابېلو پښتنو شاعرانو په شعرونو کې د ازادۍ روح روښانه شوی دی. په یو لړ کتابونو کې لیکوالانو یوازې هغه شاعران او د کلام بېلګې یې راوړې دي، چې د ازادۍ په اړه دي، لکه ( د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، ویښتیا پړاو ) چې پوهاند دوکتور بریالي باجوړي لیکلی دی او په ( ۱۳۹۹ ) لمریز کال په کابل کې جهان دانش خپرندویه ټولنې چاپ کړی دی. همدا راز (د الفت مرغلرې) چې د ګل پاچا الفت کتاب دی او په (۱۳۷۸) لمریز کال کې د دانش خپروندویه ټولنې لخوا چاپ شوی دی، په دې کتاب کې هم د ازادۍ په اړه د الفت اشعار راوړل شوي دي. بل کتاب (د حماسو کلی) نومېږي چې د عرفان الله عرفاني کتاب دی او په (۱۳۹۴) لمریز کال کې صدیقیه خپرندویه ټولنې چاپ کړی دی، په دې کې هم د ازادۍ تر سرلیک لاندې شعر راوړل شوی دی، خو زما کار له ده سره توپیر لري او هغه دادی چې ما یوازې د ویښتیا پړاو په شاعرۍ کې د ازادۍ بېلګې نه دي لټولي، بلکې له ټولو پړاونو مې بېلګې راټولې کړې، تحلیل او تشریح کړي دي.

## د څېړنې مېتود

د دې څېړنې مېتود تحلیلي - توصیفي دی او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی چې اکثره له کتابونو، علمي څېړنیزو مقالو او نورو معتبرو اخځلیکونو څخه پکې ګټه اخیستل شوې ده.

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

## د څېړنې موندنې

**په پښتو شاعرۍ کې د ازادۍ روح** :مخکې تر دې چې په پښتو شاعرۍ کې د ازادۍ پر روح بحث ولرو، اړینه برېښي چې لومړي سر کې ازادي تعریف کړو، ډولونه يې وښيو، موخه او اهداف يې مشخص کړو او د ازدای په اړه د پوهانو څو نظرونه راوړو.

**د ازادۍ تعریف** :ازادي د لغتو له زاويې د مفرد مؤنث اسم جامد ويی او لفظ دی چې د خلاصي، خپلواکي او خوشې کېدلو په معنا راځي.

په اصطلاح کې ازادي دې ته وايي چې له تګ راتګ رانيولې، بيا تر اسلامي، کلتوري او ملي عنعناتو پورې ټولې چارې په خپله خوښه ترسره کېږي، نه د بل په اشاره.(انترنیت)

ازادي د هر انسان حق دی. انسان الله تعالی ازاد او با اختيار پيدا کړی, يوازې خپلې بندګي ته يې رابللی, د هېڅ مخلوق بندګي يې پرې نه ده لازم کړې, بلکې د انبياو په واسطه يې په مسلسله توګه دوی ته پيغام لېږلی، چې د بنده له بندګۍ څخه را بهر شي.

ازادي په توره اخيستل کېږي، خو په پوهې او تدبير ساتل کېږي. مريیتوب او غلامي انساني ژوند نه دی، اسارت بدمرغي ده او د بدمرغه انسان ژوند تريخ وي. با تدبيره او پوه ملتونه هېڅکله د مريیتوب په دام کې نه ښکېلېږي ، له مريیتوب څخه د ځان ژغورنې يوازينۍ لاره پوهه او علم دی. ازادي په يوه کس پورې تړلې نه ده، د ټولو مال دی. ازادي دې ته نه وايي چې څه دې زړه غواړي هغه کوه، بلکې ازادي هغه ده چې د څه حق در کړل شوی وي، هغه ترسره کړې. په يوه هېواد کې استبداد او افراطيت هغه وخت رامنځته کېږي چې تر اندازې زياته ازادي ولري. ازادي د ټولو انسانانو داسې شريک حق دی، څنګه چې ژوند کول د ټولو انسانانو حق دی. هغه بشر چې د حق، فکر او عقيدې د اظهار ازادي ونه لري، هغوی په ژونديو کې نه شمېرل کېږي. د بلواکۍ پر ضد مبارزه د انسان په خټه کې اغږل شوې ده، له هېواد سره مينه ، د خپلواک او ازاد ژوند احساس د افغان ولس ستره ځانګړنه ده .

**د ازادۍ ډولونه:** ازادي پر دوه ډوله ده: (۱) حسي او سياسي ازادي (۲) معنوي او فکري ازادي. لومړی قسم: حسي ازادي داده چې قانون او خاوره د بل له تسلط او تجاوزه خلاصه وي، دا ازادي خو هرسړی پېژني او په يوه طريقه له طريقو يې لمانځي.(انترنیت)

دوهم قسم: معنوي او فکري ازادي داده چې د فرهنګ په شمول مو دين، مذهب، کلتور، فکر، پلان او استعداد د بل د غلامۍ له کړۍ ازاد او خپلواک وي.(انترنیت)

**د ازادۍ موخه:** د ازادۍ موخه داده چې هر سړی به (هغه که مسلمان وي يا کافر) خپل ژوند په خپل اختيار او له قانون سره سم تېروي، لوی به په کوچني ظلم ، وحشت او تجاوز نه کوي. هر سړی له پيدايښته ازاد او خپلواک انسان پيدا وي. غلامي انسان ته په عارضي توګه راځي.

**په پښتو شاعرۍ کې د ازادۍ روح:** شاعري له لويه سره د عواطفو او احساساتو اظهار دی د ازادۍ نارې له هغو زړونو راوځي چې احساسات او عواطف ولري. پښتو شاعري هم د دغسې احساساتو څخه خورا مالاماله ښکاري. دلته به په لنډ ډول د څو شاعرانو د کلام بېلګې راوړو چې ملت او ټولنې ته يې د ازادۍ روح شاعرانه کړی.

**۱: ګل پاچا الفت:** د استاد ګل پاچا الفت په شعرونو کې د ازادۍ په باب ډېرې ويناوې شته دي، ملي ازادي، د فکر ازادي او بيان ازادي د ده د شعرونو يوه لويه او مهمه برخه جوړوي. الفت په ازادۍ مين و او د اولس سوکالي او خوشحالي يې په يو ازاده ژوند کې ليده او نه يې غوښته، چې اولس دې په اسارت کې ژوند وکړي. نوموړی ازادي د ژوند کيميا او خير کثير ګڼي او هر هغه څوک چې ورته په شک او شبه ګوري، نو لرې نه ده چې وجدان او ضمير به يې ملامتوي. د فکر ازادي ته هم په لوړ مقام قايل دی. همدغه فکر يې څومره ښه په لاندې بيتونو کې شاعرانه کړی دی.

ازادي ده ژوندانه لره اکسير لوی دولت دی ورسره خير کثير په عادي نظر کتل ورته ګناه ده

ناپوهي ده د وجدان او د ضمير

پت عزت د ژوندانه ازادي بويه

بې له دې وي ژوند ذليل خوار و حقير

ازادي د تن او غړو څه په کار ده

که دې فکر وي تړلی په ځنځير

چې ازاد فکر لري په جېلخانه کې

دی ازاد دی نه غلام غوندې وزير

په تش لاس ازادي نه شي څوک ساتلی

ازاد نه دی بل ته اړ، وږی، فقير

چې وطن او ملک ازاد وي کله ښايي

چې يې خلک د څو تنو وي اسير

باداري د زور او زرو چې کړي ورکه

ده همدغه ازادي وړ د تقدير (الفت، ۱۳۸۷: ۴۲۸ ).

ګل پاچا الفت ازادي د قربانيو ثمره ګڼي. نوموړی وايي:

د ازادۍ معراج ته نه رسيږي هغه خلک

چې د غيرت او ننګ په لار کې يې سرونه نه ځي

Pamir Academic & Research Journal - مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامير علمي څېړنيزه مجله

اروانښاد ګل پاچا الفت خپلواکی ته دومره ترجیح ورکوي چې د یوه کس لوچ او بربنډ حالت یې د هغه حالت نه غوره بللی، کوم چې د ورېښمو چنجي لري، هغه د ورېښمو تارونه تولیدوي خو خپلواکي ترې سلب شوې وي، الفت صاحب له دې حالت څخه بېزاره دی او د خپلواکۍ جامه، په قیمت بها جامه (حریر) نه ورکوي او له هغې څخه غوره بولي. دکلام نومونه یې وګورئ :

په سر لوچ په تن لغړ او بر بنډ ښه یم
نه پیله غوندې ورېښمو کې اسیر
په کېږدۍ کې د وزغنو که ازاد یم
یو وېښته به یې ورنه کړم په کشمیر
په خامتا کې اصیل ښکاري ښه هر چاته
نه مریی که یې اغوستی وي حریر
په خپل واک خاورو کې پروت همیشه ښه یم
نه دبل په واک په ډېر ښکلي تعمیر ( الفت، ۱۳۶۹: ۴۸).

لاندې بیتونه یې د ( ازادۍ ) تر سرلیک لاندې لیکلي. لوستونکو ته یې په څومره روښ شکل د ازادۍ پیغام وړاندې کړی دی. الفت رنګارنګ تشبیهات کارولي دي، تر څو مخاطب لوری د ازادۍ پر ارزښت او اهمیت پوه کړي، نوموړی وايي: په شړۍ او عادي لباس کې ازاد ژوند د چینجي له وریښمین ژوند څخه غوره او بهتر دی، ځکه چې هغه هلته بندي او قیدي وي. له هغه انسان څخه چې د ورېښمو لباس یې پر تن وي، خو غلام وي، یو د عادي لباس والا انسان غوره دی، خو چې ازاد وي.

په شړۍ کې ښه یم زه ازاد فقیر
نه ورېښمو کې چینجي غوندې اسیر
په خمتا کې حر ازاد ښه دی سل ځله
له غلامه چې لباس یې وي حریر
د وزغنو په کېږدۍ کې که ازاد یم
یو وېښته به یې ورنه کړم په کشمیر
په ویجاړه کې مرغان ځاله کې خوښ وي
په قفس کې د سرو زرو وي زهیر
چې مرغان په هوا وینم چرګ په ځمکه
راته یاد د اسارت شي بد تاثیر(الفت، ۱۳۸۷: ۱۷۰ ).

بل ځای هم د ازادۍ روح ټولنې ته داسې وړاندې کوي:

شهرت د عقل له نامه د افلاطونه، نه ځي
د ازادۍ مینه هیڅکله له پښتونه، نه ځي
که هر څه لاړ شي له دې دهر او جهانه ځنې
د بل له جغ لاندې ژوندي ویښ ملتونه، نه ځي
د ازادۍ معراج ته نه رسېږي هغه کسان
چې د غیرت او ننګ په لار کې یې سرونه، نه ځي
په توره باندې چې مړ نه شي څوک یې نه پېژني
داسې مزار ته پښتنې ملالې نجونه، نه ځي
سرو مال ځي د عشق په لار کې خاورې کېږي زړونه
د لیلی مینه پس له مرګه له مجنونه، نه ځي (الفت، ۱۳۸۷: ۹۲)

په لاندې بیتونو کې ( د ازادۍ احساس ) تر سرلیک لاندې لیکي، چې په ذهن، فکر او سوچ کې مې یو داسې پټ او غلی د ازادۍ احساس راپارېدلی چې هېڅ ارام ته مې نه پرېږدي او تل راته له غلامۍ څخه د خلاصون نارې وهي. همدا خبره په شعري انداز داسې بیانوي:

یو پټ غلی احساس دی چې آرام مې نه پرېږدي
په اور مې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرئت مې زیاتوي دومره په ځان یمه پوه شوی
غافل له خپله حقه او غلام مې نه پرېږدي. (الفت، ۱۳۸۷: ۱۱۸).

لاندې بیتونه یې د (خپلواکي) تر سرلیک لاندې راوړي دي. نوموړی وایي چې ازادي د ملي ژوند اساس دی او ازادي څو محدودو خلکو پورې اړه نلري، بلکې دا د ټولو ګډ مال دی او هر سړی په کې خپله، خپله برخه لري. نوموړی وایي:

د ملي ژوند اساس خپلواکی ده
د ملي غرور ژوند سرلوړي ده
د څو تنو څو کسو خو نه ده
پکې برخه د هر هر سړي ده (الفت، ۱۳۸۷: ۳۷۵ ).

استاد ازادي د ژوند لپاره یو قیمتي څیز ګڼي او په عادي نظر ورته نه ګوري، دی وایي که د انسان ټول بدن په ځنځیرونو وتړل شي، خو چې فکر یې ازاد وي. نوموړی وایي:

نور خلک ترې منکر دي یو په ما باندې قیامت دی
ترڅو به زه یوازې قیامتونه قبلوم

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

یوه ژبه راپرېږده چې کوم درته عرضونه
په لاس په پښو په غاړه څنځیرونه قبلوم

**۲: اروابناد قیام الدین خادم:** اروابناد قیام الدین خادم خپلواکي له زړېږدو راپیلوي او په دې لاره کې یوازې ستر لایزاله ذات الله (ج) ته د بنده ګی سر ټیټوي او وایي :

صحیح لاره به ښایم که وم وم که نه وم نه وم
رښتیا رښتیا به وایم که وم وم که نه وم نه وم
ازاد یم زړېږدلی بنده ګي کولای نشم
بنده د خپل مولا یم که وم وم که نه وم نه وم ( باجوړی، **۱۳۹۹: ۵۷**).

**۳: استاد عبدالشکور رشاد:** د پښتو ژبې دروند او فاضل استاد عبدالشکور رشاد ازادي او خپلواکي له زړه سره تشبیه کړې ده، په بدن کې زړه پاچا او رئیس دی، چې د هغه تر امر لاندې ټول غړي په منظم او سېستماتیکه بڼه خپل، خپل کار پر مخ وړي، که زړه بې سده شي، نور غړي له فعالیت څخه لوېږي. همدارنګه ازادي د هر ملت لپاره د زړه مثال لري ، که په یو ملت کې ازادي نه وي نو ملت خو لا څه کوي چې نوم او نښان یې هم نه پاتې کیږي . عبدالشکور رشاد وایي:

د مجنون ژوندون به څه وي چې لیلا مري
څه په کار دی تش کالبوت چې زړه د چا مري
زړه ډیوه ده دا د ختو په قالب کې
خدا ومه کړه چې به دا ډیوه د چا مري
حریت د هر ملت د بدن زړه دی
که دا نه وي هم ملت مري هم بقـا مري ( بینوا، **۱۳۸۸: ۴۶۲**

**۴: همیش خلیل:** همیش خلیل دپښتو ژبې یو بل نوموتی شاعر او لیکوال دی چې د خپل وطن او خاورې سره یې په خپل کلام کې بې کچې مینه ښودلې او د وطن یوه موټې خاوره یې د چین له ختن سره نه ده برابره کړې دی وایي:

موټی خاوره د وطن به پـــرې ور نه کړم
که په سر د ځمکې هر وطن ختن شي
د اوبو پر ځای د زړه ویني به ورکړم
که محتاجه طراوت ته دا چمن شي
خپله خاوره به په خپلو ویـنو پالم
که حاجت یې قرباني زما د تن شي
که غلیم له ما برې یووړ محبوبې

ستا پرونی دې زما د تن کفن شي ( باجوړی، ۱۳۹۹: ۴۲۸).

**۵: موسی شفیق:** سیاسي مبصر شاعر او لیکوال موسی شفیق هم د خپلواکۍ سره بې کچې مینه ښيي او وايي چې د خپلواکۍ د عشق او مینې ولولې مې تل په سینه کې یو شور جوړوي او دخپلواکۍ پاک احساسات مې را پاروي. سوله ، امنیت او د بشریت خیر مې سترې هیلې او ارزوګانې دي چې دې ته ورورسېږم او که په دې لاره کې څوک راته خنډ واقع شي، نو د هغه به لویه بدبختي همدا وي ، همدا دردونه داسې سندریز کوي :

عشق د خپلواکۍ مې په سینه کې په هاها وي تل
پاک مې احساسات دي ازادي مې تمـنا وي تل
خیر د بشر غواړم امنیت مې تقاضا وي تل
ما سره چې نښلي، بدبختي د هغه چا وي تل
زړه مې ډک په مینې دی تاوده تاوده جذبات لرم
پاک سوچه پښتون یمه سپېڅلي احساسات لرم ( باجوړی، ۱۳۹۹: ۱۱۷).

**۶: سید شمس الدین مجروح:** لوی فیلسوف شاعر او لیکوال سید شمس الدین مجروح پردي ته سر نه ټیټوي او هغوی په خپل غرور سره ننګوي او بلوسګر داسې ګواښي:

ټیټ مې مه بوله غورځنګ را باندې مه کړه
زه په دې افتادګۍ کې لوی ګړنګ یم ( باجوړی،۱۳۹۹: ۹۹).

**۷: خوشحال خان خټک:** ستر خوشحال د خپلواکۍ په برخه کې دومره حساس و، چې د بل د لاس لاندې ژوند ورته زندان ښکارېده. نوموړی وايي:

ازادي تر پاچاهیه لا تېرې کا
چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي (خټک، ۱۳۸۸: ۳۸)

**۸: استاد حبیب الله رفیع:** نامتو څېړونکی او لیکوال استاد حبیب الله رفیع ازادي د ابادۍ مقدمه او پیلامه ګڼي او تر څنګ یې هغه قومونه په ورکو حسابوي چې د غلامۍ په ځنځیرونو تړلي وي.

نوموړی وايي:

ازادي د ابادۍ مقدمه ده
یو هېواد هله اباد شي چې ازاد شي
چې غلام وي نه یې نوم نه یې نښان وي
چې ازاد شي په تمامه دنیا ښاد شي ( رفیع، ۱۳۵۴: ۶۸).

مجلۀ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمي څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

**۹: اکرام الدین مفتون:** مفتون (د ازادۍ خیال) تر سرلیک لاندې وايي چې (که خیر وي) یو داسې وخت به راشي چې دا هر څه به بدلون مومي. سختې شپې او ورځې به تېرې شي. نوې هیلې او ارمانونه به راوټوکېږي. ازادي به راشي او هر ځای به له خوښیو ډک محفلونه وي او د ازادۍ ترانې به د هر ځوان پر خوله جاري وي او دا هر څه به د سپېڅلو شهیدانو د وینو له برکته وي. نوموړی همدا خبرې د شعر په ژبه داسې زمزمه کوي:

خوږ موسم به شي ستومان ژمی به تېر شي

رنګارنګ خوږې ثمرې به پخې شي

د حریت ناوې ستا جنج به زلمي واخلي

ورکې ښې د غیرت زغرې به پخې شي

وي به هر ځای د خوښیو اتڼونه

د شهید وینې به راوړي بهارونه (مفتون، ۱۳۹۶: ۱۸۳)

**۱۰: عرفان الله عرفاني:** شاعر عرفان الله عرفاني وايي چې ازادي څو بدرنګو خلکوخفه کړې وه او همدا خفګان د دې لامل شو چې ازادۍ له موږ څخه کډه کړې وه او د پردېسۍ شپې یې له نورو سره تېرولې. دا دی، اوس داسې شېبې رارسېدلې دي چې دا مروره مېلمنه بېرته راپخلا کړو او د تل لپاره یې په خپل هېواد کې کوربه کړو. نوموړي همدا خبرې په څومره ښکلي انداز کې د شعر په تارونو کې پېیلې دي:

مونږ لاروي د انقلاب یو راولو ازادي

د زړه په تخت باندې یې نوره کېنوو ازادي

بس ده نور بس مسافري یې دومره ډېره وکړه

تکل مو کړی نوره یې کوربه کوو ازادي

یو څو بدرنګو خفه کړې مروره ګرځي

په مونږ خو ګرانه ده مونږ څکه نازوو ازادي

د غلامۍ په خوب ویده یې قدر څه پېژني

مونږ مجنونان خو تل په سرو وینو ساتو ازادي (عرفاني، ۱۳۹۴: ۹۶)

## پایله

ازادي یوه تعریف شوې کلمه ده چې له ازله تر ابده د بحث او څېړنې وړ ده او د ټولنې په اصلاح او سمون کې یې اهمیت او ارزښت له ورایه څرګند دی. له غلامۍ او مریيتوب څخه د ځان ژغورنې یوازینۍ لاره پوهه او علم دی. دا چې شاعران په ټولنه کې له نورو ډېر حساس او هر څه ته د زړه په سترګو ګوري او د خپلو دروني احساساتو د اظهار یوازینۍ وسیله خپله ژبه او قلم ګڼي، نو د ازادۍ په اړه یې د خپلو دروني احساساتو اظهار د شعر په ژبه کړی دی او دا یې حق هم جوړېږي. هر شاعر ازادۍ ته له خپل لیدلوري کتلي دي او دغه موضوع یې شاعرانه کړې ده.

## وړاندیزونه

اړینه ده چې د دې څېړنې په رڼا کې لوستوونکو ته لاندې وړاندیزونه ولرم:

۱. د ژبې او ادب مینه والو ته وړاندیز کوم چې د ازادۍ په اړه د هغو شاعرانو په افکارو څېړنه وکړي، کوم چې غواړي ټولنه په رڼه لاره روانه کړي.

۲. علومو اکاډمۍ ته مې دا وړاندیز دی چې د هغو شاعرانو ټولګې چمتو او چاپ کړي، چې د ازادۍ وړانګې پکې له ورایه ځلېږي.

۳. څېړونکي دې د شاعرانو له شعرونو د بیان او فکري ازادي اصلي څېره رابرسېره کړي.

۴. په کار ده چې د ازادۍ په اړه علمي بحثونه، سمینارونه او کنفرانسونه دایر شي.

مجلهٔ علمی-تحقیقی پامیر / - دپامیر علمی څېړنیزه مجله - Pamir Academic & Research Journal

## اخځلیکونه

باجوړی، بریالی. (۱۳۹۹). د پښتو ادبیاتو تاریخ ( ویښتیا پړاو). کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.
بینوا، عبدالروف. (۱۳۸۸). اوسني لیکوال. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
خټک، خوشال خان. (۱۳۸۸). د خوشال بابا دیوان. پېښور: د مومند خپرندویه تولنې تخنیکي ځانګه.
رفیع، حبیب الله.(۱۳۵۴). تېر یادونه. کابل: دولتي مطبعه.
عرفاني. عرفان الله. (۱۳۹۴) د حماسو کلی پېښور: مکتبه صدیقیه.
الفت، ګل پاچا. (۱۳۶۹ل). غوره شعرونه. پېښور: کابل کتابفروشي.
الفت، ګل پاچا. (۱۳۸۷). د الفت مرغلرې. پېښور. دانش خپرندویه ټولنه.
مفتون، اکرام الدین.(۱۳۹۶). مهاجرې اوښکې. پېښور: د مسلمان بنسټ اداره.
یزال، یارمحمد. (۱۳۹۸). د خوشال افکار. کابل. د ماسترۍ لکچر نوټ ناچاپ.